# د شنګل پر وړاندې ځان وساتئ

## د شنګل واکسین



### دا واکسین مو د کومو ناروغیو پر وړاندې ساتنه کوي؟

دا واکسین د هرپس زوستر د خپریدو پر وړاندې ساتنه کوي، چې د شنګلز په نوم هم پیژندل کیږي. شینګلس یو دردناکه د تناکې په شکل داني رامینځته کوي چې خارش لرونکي وي. شینګلس هم د هغه وایروس له امله رامنځته کیږي کوم چې د چیکن پاکس رامنځته کوي. دا دردناکه تناکې کولی شي څو اونۍ دوام وکړي، او هغه عصبي دردونه چې د شینګل له امله رامنځته کیږي ډیر دردناکه او د څو میاشتو نیولی حتی تر کلونو لپاره دوام کوي.

### څوک باید دا واکسین ترلاسه کړي:



- که تاسو 50 کاله او یا د هغه څخه ډیر عمر لرئ
- که تاسو ځوان یاست او د معافیت ځینې ستونزې لرئ (د بیلګې په توګه، ځینې درمل او/یا طبي ستونزې چې ستاسو د معافیت سیستم د پام وړ کمزوری کوي)
- تاسو د شنګریکس واکسین دوه دوزونو ته اړتیا لرئ، دوهم دوز د لومړي دوز څخه ۲ څخه تر ۶ میاشتو وروسته تطبیق کیږي.

**څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي؟** تاسو ممکن دا واکسین ترلاسه نه کړئ که تاسو د دې واکسین یا ورته واکسین د یوې برخې سره حساسیت یا وروسته جدي/غیر معمولي جانبي عوارض یا بدې اغیزې ولرئ.



**دې واکسین جانبي عوارض څه دي؟** بدې اغیزې یې خورا عادي او لندمهاله دي، لکه د ستنې یا پیچکاري ځای کې سوروالی، پرسوب، درد، ستړیا ، سر درد ، تبه ، د اشتها ضعیفوالی ، د زړه بدوالی یا خوا ګرزیدل، کانګې ، او د معدې درد شامل دي. جانبي عوارضو د اداره کولو لپاره د د پیچکاري یا ستنې ځای کې د یخ لوند ټوکر څخه کار اخیستلی شو، او د تبې یا درد سره د مقابلې لپاره د ibuprofen یا acetaminophen په څیر درملو اخیستلی شو.

---

### که تاسو کومې اضافي پوښتنې لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلئ؟ تاسو کولی شئ:

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیرې سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیا مرکز ته په 587-392-8062 شمیرې اړیکه ټینګه کړي.
- د خپل کورنۍ ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

AIMGA Alberta International Medical Graduate Association

19 TO ZERO UNITED AGAINST COVID-19

Financial contribution:

Public Health Agency of Canada
Agence de la santé publique du Canada

ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION CREATING BRIGHTER FUTURE